

ADVANCE SOCIAL SCIENCE ARCHIVE JOURNAL
Available Online: https://assajournal.com
Vol. 04 No. 02. Oct-Dec 2025.Page#.3785-3789
Print ISSN: 3006-2497 Online ISSN: 3006-2500
Platform & Workflow by: Open Journal Systems
https://doi.org/10.5281/zenodo.17972860

# A Critical Study of the Poems of Dr. Jehan Alam

# د ډاکټر جهان عالم د نظمونو تنقیدي مطالعه

**Anwar Khan**
MPhil Scholar Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan
**Dr. Syed Zafar Ullah Bakhshali**
Assistant Professor Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan

## ABSTRACT

*Dr. Jehan Alam is a prominent figure in contemporary Pashto literature, recognized for his contributions as a researcher, critic, and poet. This research-based critical study examines his poetic works with particular focus on his Nazms, analyzing them from both technical and intellectual perspectives. Dr. Jehan Alam has written traditional, blank, and free verse poems, reflecting a balanced engagement with classical conventions and modern poetic sensibilities. His rhymed Nazms, such as Da Khushal Paigham and Da Nine Eleven Na Pas Da Pakhtun Qaumi Wahdat, address socio-political realities, national disunity, and moral decline within Pashtun society through symbolism, allegory, and direct expression. In contrast, his free verse poetry, especially in the collection Tanabuna, emphasizes romantic imagination, vivid imagery, and inner emotional conflict. The study highlights his effective use of imagery, dramatization, and message-oriented expression, establishing him as a poet who successfully blends aesthetic beauty with social consciousness. This research concludes that Dr. Jehan Alam's Nazm poetry holds a significant place in modern Pashto literature.*

***Key Words:*** *Dr. Jehan Alam, Pashto Nazm, Modern Pashto Poetry, Critical Study, Traditional and Free Verse, Social Consciousness, Imagery and Symbolism.*

ډاکټر جهان عالم د پښتو ادب یو پېژندلے نوم دے ـ د تحقیق او تنقید سره سره د پښتو شعري ادب یو فعال غړے دے ـ په شاعرۍ کښې یې نظم او غزل د خوښې توکي دي ـ پرته له دغه اصنافو قطعات ، رباعیات ، هائیکو او تاریخي مرثیې هم لیکي ـ اوس اوس د ایسوسي ایټ پروفېسر په حېث د هائیر ایجوکېشن نه رېټائر شوے دے ـ د موصوف نظمونه وخت په وخت د مختلفو جریدو ، اخبارونو او سوشل مېډیا له لارې منظر عام ته راغلي دي ـ او د خپل لوستونکي نه یې بلها داد او ډاډ اغستے دے ـ ډاکټر جهان عالم روائتي او جدید دواړه قسمه نظمونه لیکلي دي او لیکي یې ـ په مقفٰی نظمونو کښې یې" دسمبر" ،" عبدالرحمان بابا "، نائن اېلون (11-9)نه پس د پښتون قامي وحدت ، زۀ به څۀ رنګه اختر کړم ، "د کرونا د وبا کال " او د خوشحال پیغام د اوچتې پائې نظمونه دي ـ دغه نظمونه په ځان دننه یو مضبوط پیغام لري ـ او په معاشره کښې د موجود اړي ګړي او شور ماشور د ختمولو دپاره قام ګام اخستلو ته ګماري ـ البته ځیني نظمونه د منظرکشۍ او رومانیت غوره نمونې دي ـ مقفٰی او روائتي نظمونو پرته د موصوف په کلام کښې د معرىٰ او ازاد نظمونو یوه بلها ذخیره هم شتون لري ـ دغه نظمونه هم چرته چرته د ادب دپاره ژوند د مقصد لاندې لیکلي شوي دي ـ هر کله چې بعضې نور نظمونه د " ادب دپاره ادب " د نظریې عکاسي کوي ـ مونږ به په روانو مخونو کښې د دغه دواړه قسمه نظمونو تکنیکي او فکري کره کتنه کوو۔

ډاکټر جهان عالم په خپل يو نظم " د خوشحال پيغام " کښې په خوب کښې د خوشحال خان خټک سره ملاقات کوي ـ او بياچې ورته خوشحال بابا د پښتون قام نه کومې ګيلې او شکوې کړي دي ـ شاعر هغه په ډېره دلچسپه پيرايه کښې ترقامه رارسولي دي ـ

د قبــــــر د خوشــــــحال نــــــه راختلــــــو دا اواز
لا نــــــهٔ وې چــــــې خبــــــر ستاســــــو لــــــه حالــــــه فرښــــــتې
راتلــــــې بــــــه د رحمــــــت هــــــر وختــــــې مالــــــه فرښــــــتې
الله چــــــې چــــــې اګــــــاه د قيــــــل و قالــــــه فرښــــــتې
پيغــــــور ستاســــــو پــــــه ســــــر راکــــــوي مالــــــه فرښــــــتې

مــــــا مخکښــــــې لــــــه دې بحثــــــه پــــــه پښــــــتون کولــــــو نــــــاز
د قبــــــر د خوشــــــحال نــــــه راختلــــــو دا اواز

وې ســــــتوري د اقبــــــال مــــــو دي تــــــت شــــــوي پــــــه عــــــذاب يــــــې
ژونــــــدي ګرځــــــي پــــــه زمکــــــه خــــــو د مــــــړو پــــــه حســــــاب يــــــې
والله کــــــهٔ نــــــن پــــــه خپلــــــه لا د هيچــــــا د جــــــواب يــــــې
نــــــهٔ اهــــــل د ټوپــــــک يــــــې نــــــهٔ لوســــــتونکي د کتــــــاب يــــــې

پــــــردې د حقيقــــــت مــــــو پټــــــې کــــــړي پــــــه مجــــــاز
د قبــــــر د خوشــــــحال نــــــه راختلــــــو دا اواز ۱

په دې نظم کښې د نني دور د پښتون نه د خوشحال بابا په ژبه ډېرې ګيلې شوي دي ـ چې نهٔ يې د بهادرۍ مړانې او شجاعت هغه معيار پاتې دے ـ او نهٔ د نوي دور په علمي او سائنسي کالو ښائسته دي ـ په فني لحاظ هم دا نظم د يو کامياب نظم واړه خوبۍ لري ـ د دې نه علاوه " د نائن ايلون نه پس د پښتون قامي وحدت " نومې نظم کښې يې هم چرته چرته په استعارو کنايو او چرته چرته نيغ په نيغه د پښتون قام بې حسي ، لاعلمي ، جهالت او نفاق په ډېره اُستکارۍ او هنر سره غندلي دي ـ د نمونې دپاره دا بند ولولئ ـ

چــــــې ناڅاپــــــه يــــــو ســــــپين ږيــــــرے ښائســــــته مــــــې خوالــــــه راغــــــے
پــــــه يــــــو لاس کښــــــې کاغــــــذ څــــــهٔ وو ورســــــره مــــــې خوالــــــه راغــــــے
خــــــدائے زده ولــــــې پــــــه راتلــــــو د دهٔ وهشــــــت رابانــــــدې خــــــور شــــــو
يــــــا مــــــې ټــــــول وجــــــود واوره وهٔ يــــــا مــــــې ټــــــول وجــــــود کښــــــې اور شــــــو
مالــــــه يــــــې را هغــــــه کاغــــــذ کــــــړو وې دا ولولــــــه پــــــه خپلــــــه
يــــــو يــــــو ټکــــــے مــــــې کتلــــــو يــــــوه يــــــوه کرښــــــه مــــــې لوســــــتله
عجيبــــــه شــــــانې تحريــــــر وهٔ عجيبــــــه شــــــانې قيصــــــه وه
د تقــــــدير قاضــــــي ليکلــــــې پــــــه کښــــــې دغــــــه فيصــــــله وه
د کــــــوم قــــــام وحــــــدت شــــــي خــــــتم ځــــــان ځــــــاني پــــــه کښــــــې پيــــــدا شــــــي

دا سُوب یې د زوال شي دا سُوب یې د فنا شي
هغه خلق په ژوند ومري د چا نهٔ راځي په خیال کښې
دا لیکلي ضابطې دي په قانون د ذولجلال کښې ۲

په فني او فکري دواړه ډوله دا نظم خپل مثال په خپله دے ۔ لکه "د خوشحال خان خټک د پېغام " دا نظم هم شاعر د خپل لیدلي یو خوب نه اخذ کړے دے ۔ چې په کښې د خپل قام د نفاق او د ځان ځانی نتائج او د مستقبل خدشات په دلچسپه پېرایه کښې راوړے شوي دي ۔

پرته له روائتي نظمونو د ډاکټر جهان عالم په توګه " تنابونه " کښې یو شمېر ازاد نظمونه هم وجود لري ۔ دغه نظمونه زیاتره د رومانوي موضوعاتو او خیالاتو سره تړاؤ لري ۔ چې په کښې منظر کشي او محاکات نګاري د اعلي پائې شوې ده ۔ په یو نظم " سپرلے په پسرلي کښې " د منظر کشی هغه حدونه سر شوي دي ۔چې لوستونکے بغېر له داده نهٔ شي پاتې کېدے ۔

د دې نظم نه څهٔ لږه برخه د خپل لوستونکي د دلچسپۍ دپاره

په دې کښې په اسمان وریځې راغلې او تیارهٔ شوه
لا چرته په کښې ځیره نیم د نمر هم راښکاره شوه
نري نري باران سره نرۍ نرۍ سیلۍ شوه
ناڅاپه چې یو تر شو څهٔ باران او څهٔ بړلۍ شوه
مونږ منډې کړې کورونو ته چې ښه تېزه شپېه شوه
یا زمکه وچه سپوره وه یا سمه اوبهٔ شوه

شپېه د پسرلي وه مونږ یې دواړه ښهٔ لامدهٔ کړو
تهٔ زر د توت د غټې ونې شاته ټیکنۍ شوې
زه هم د توت د لاندې د بارانه پټېدمه
تهٔ ټول خمار خمار وې ، ټوله خپله یوه نشه وې
زهٔ ستا په تماشه ووم تهٔ د چا په تماشه وې
قطره قطره اوبهٔ دې د ویښتو نه څڅېدلې
نرۍ نرۍ جامې دې په وجود پورې نښتلې

حېران وم په سپرلي کښې عجیبه شان سپرلے وهٔ
نظر د اشتیاق جوړ کړے تاته هر کلے وهٔ

په دې کښې دېر د لرې نه یوه چغه یوه ټپه شوه
مونږ دواړه ورته غوږ شو د هوا په دوش خوره شوه
بیا به نرۍ جامې ونهٔ کړم

باران لمده کړم جانان ټوله ولیدمه

ګو کهٔ ډاکټر صېب په اصل کښې د تحقیق د لارې لاروے دے ۔ او د پښتونخوا د ګوټ ګوټ څېړنکاران د هغوي د کار او زیار معتقد او ستائیونکي دي ۔ په کتاب " ټپه او صنعتونه " کښې په دې حقله ډاکټر اباسین یوسفزے لیکي چې

> "زهٔ په حېث د یو شاعر او د پښتو ادب د یو طالب علم دې کار ته په درنه سترګه ګورم ۔ هر څو چې زهٔ د فني کړکېچونو په ځائے شعریت او تخیل ته زیاته پام لرنه لرم ۔ خو په حقیقي توګه کهٔ غور وشي نو د شعریت ختې ګټه او رغاونه هم دغه فني خوبیانې دي د کومو په لټون کښې چې ښاغلي جهان عالم د خپل زیار اسونه زغلولي دي ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ انشاءالله چې د څېړنې په ډګر به مونږ د دهٔ نورو فن پارو ته سترګې په لار یو " ۴

خو د تحقیق او تنقید سره سره زمونږ ادیب او محقق یو ښهٔ شاعر هم دے ۔ ازاد نظمونه او تاریخي قطعات یې زمونږ د دعوې ستر سندونه دي ۔ د موصوف په معرئ نظمونو کښې " پسرلے په پسرلي کښې " ، فرق ، وفا ، بې وسي ، زهٔ څوک یم ، د زړهٔ سترګې ، جنګ کهٔ امن او ورک یاران ، وغېره د یادولو وړ نظمونه دي ۔

مونږ دلته د محترم جهان عالم یو نظم ګوتے " وفا" د خپلو لوستونکیو دپاره راخلو کوم چې د فن او خیال دواړو له مخه په شعري کنده پوره خیژي ۔

وفا

ستا پاخهٔ لوظونه
ستا پخې خبرې
ما د زړهٔ په تختې لیک کړې
ما د زړهٔ په کور کښې کېښوې
عمر تلو په منده
ورځې میاشتې تېرېدلې
ستا د لوري سردمهري وه
ستا له لوري بې رُخي وه
ما به وس هم کله
د پېغام له لوري یاد کړې
ستا له لوري خاموشي وه
خو زما هم بې وسي وه
ما به جبر په زړهٔ وکړو
ما په زور تهٔ هېرولې
دې کښې نور هم عمر تېر شو
بې رُخي نوره سېوا شوه
یوه ورځ مراقبه شوم
د درون په تماشه شوم
هغه لیک ته چې مې پام شو

هغه لیک وۀ څۀ نیمګړے
جوړ څۀ ټکے ترې وران شوے
ما غه ټکے لټولو
ماپړې ځان پوهه کولو
دې کښې غلي شان په غوږ کښې
چا غېبي راته اواز کړو

څوک چې له یاره وفا غواړي

ماته قیصه د صنوبر رایاده شینه ۵

دا او دغه شان د دې مجموعې نور نظمونه په دې خبره دلالت کوي چې ښاغلے شاعر د نظم ګوئی په فن پوره پوره لاس برے لري ـ په نظمونو کښې یې د مقصد او ذهني عیاشي دواړو مواد په بلها توګه شتون لري ـ کۀ اعلي پائې پېغام یې د نظم خاصه ده نو منظر کشي ، محاکات نګاري او تجسیم سازي یې هم د فن په تکمیل او ښکلا ګواهي کوي ـ

لنډه دا چې ډاکټر جهان عالم یو ښۀ څېړنکار ، نقاد ، او افسانه نګار سره سره یو ښۀ نظم ګو شاعر هم دے ـ څوک چې د نظم له لارې خپلې ټولنې ته خپل پېغام رسولو کښې سل په سله کامیاب شوے دے ـ

الله دې وکړي چې زمونږ د شاعر د تخیل چینې هم دغه شان تاندې وي چې د ټولنې د سُوراړه د ګلونو ابیاري ترې جاري وي ـ امین

حوالې


۱: عالم ، جهان عالم ، ډاکټر ، تنابونه ـ ( شعري ټولګه ) ناچاپه ، مخ ۱۲۰

۲: هم دغه کتاب ـ ـ ـ ـ ـ ـ مخ ۱۵۷

۳: هم دغه کتاب ـ ـ ـ ـ ـ مخ ۱۵۴

۴: اباسین یوسفزے ، یو نوے څېړنکار ، مشموله ټپه او صنعتونه ، ۲۰۰۳، مخ ۱۵

۵: عالم ، جهان عالم ، ډاکټر ، تنابونه ـ ( شعري ټولګه ) ناچاپه ، مخ ۲۳۳